# مطبوعاتي خبرپاڼه

**د ملګرو ملتونو پرمختيايي اداره**

**مرکزي دفتر، شاه محمود غازي واټ، کابل افغانستان**

## په ننګرهار کې د مسلکي روزنې رغول شوی مرکز په رسمي ډول ځايي اداري ته وسپارل شو

ننګرها، د غويي ۱۷، ۱۳۸۷

د ملګرو ملتونو د پرمختيايي اداري د ښاري پرمختيا ډلې د ننګرهار د مسلکي روزنې مرکز له رغولو وروسته نن په رسمي ډول د ولايت ځايي اداري ته وسپاره. دا د هغې پروژې يوه برخه ده چې په ننګرهار، کندهار، کندز، هرات، جوزجان، باميانو، بلخ (مزار)، پکتيا (ګرديز) او کابل کې د مسلکي روزنې نهه مرکزونه په کې رغول کيږي.

دغه پروژه په اړوندو ولايتونو کې د کار، ټولنيزو چارو، شهيدانو او معلولينو وزارت د مسلکي روزنې د مرکزونو د رغولو له لارې خلکو ته د کار او معيشت د فرصتونو د زياتولو موخه لري.

پروژه به د کار، ټولنيزو چارو، شهيدانو او معلولينو له وزارت او د جاپان د نړيوالې همکارۍ له اداري (جايکا) سره په نږدې همکارۍ کې د ۱۲ مياشتو په ترڅ کې (سيپټامبر ۲۰۰۷- اکتوبر ۲۰۰۸) بشپړه شي. تر دغې ازميښتې پروژې لاندې، د ملګرو ملتونو د پرمختيايي اداري د ښاري پرمختيا ډله اړوندو روزنيزو مرکزونو ته، د دوی د فعاليت د ښه والي لپاره، د دفتر او امنيت اړوند وسايلو په ګډون اساسي لوازم برابروي. د دې سربېره، په دې پروژه کې په اړوندو مرکزونو کې د جنريټر لپاره ځای او د انګړ ديوالونه جوړيږي، په کرکيو کې يې پنجرې او د هوا د ګرمولو او يخولو سيستمونه لګول کيږي، د چت د سوريو په څير د ودانيو نيمګړتياوې يې رغول کيږي او نور عام لوازم ورته برابريږي.

د پروژې مالي لګښت د جاپان د دولت له خوا د جاپان د محلي مرستو د امانتي صندوق په چوکاټ کې ورکول کيږي چې د مسلکي روزنې د نومړو مرکزونو د رغولو له لارې د کار، ټولنيزو چارو، شهيدانو او معلولينو له وزارت سره د مرستې موخه لري. نومړې پروژه د پخوانيو وسله والو د بې وسلې کولو، ملکي ژوند ته راګرځولو او ټولنه کې ميشته کولو د بهير په ترڅ کې پيل شوې ده. پورتني روزنيز مرکزونه به د کار، ټولنيزو چارو، شهيدانو او معلولينو وزارت "د پخوانيو وسله والو لپاره د اساسي مسلکي روزنې پروژې" د يوې برخې په توګه د پخوانيو وسله والو او نورو له زيان سره مخ کسانو لپاره د مسلکي روزنې د مرکزونو په توګه وکارول شي چې موخه يې د معيشت وده او د مسلکي روزنې له لارې د پخوانيو وسله والو، معلولينو، کونډو او تر ټولو ډيرو زيانمنو وګړو، چې کار نه لري، پر داسې مهارتونو سمبالونه ده چې عايد يې ډير کړي او د زيانمنېدو ګواښ يې کم کړي. (پای)

د دې خبرپاڼې په هکله د لاډيرو معلوماتو لپاره هيله ده له فضه حسيني، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د پرمختيايي اداري د رسنيو له مسؤولې، سره د (**fezeh.hosseine@undp.org**) او يا ۷۱۴ ۴۷۵ ۰۷۰۰ (۹۳+) يا ۴۰۹۸ ۲۱۲ (۰) (۹۳+)ټيلفون شميرو له لارې اړيکه ټينګه کړئ.